# د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

## د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او د یوناما له خوا
## د سیاسی حقونو په باب ګډه څارنه
## د ولسمشریزو او ولایتي شورا ټاکنې
## لومړی راپور
## د اپریل ۲۵ تر جون ۱۲ کال ۲۰۰۹



د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

## د موندنو لنډیز

• د نومونی، اعتراضونو او اصلاحاتو موده د ټاکنو د قانون او قواعدو سره سم په خپل وخت سرته ورسیده. دا د افغاني موسسو په تېره بیا د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو په اړه د شکایتونو د اوریدلو د کمیسیون د ملاحظې وړ لاس ته راوړنه ده چې د بن پړاو نه وورسته د ملي ټاکنو د سازمان ورکولو مسولیت یې په غاړه درلود.

• د راپور ورکولو پړاو د امنیتي حالاتو د خرابیدو له امله د هیواد په ډیرو برخو کې مشخص شوی دی. د بریدونو او ګواښونو راپورونه رارسیدلی دی چې په عمده توګه د دولتت ضد عناصرو او نا پیژندل شویو مجرمینو له خوا د نوماندانو په خلاف، په تیره بیا د ښځینه کاندیدانو او همدارنګه د مدنې روزنې او د ټولټاکنې د کارمندانو په خلاف ترسره شوي دي چې دا د جارې امنیتي اندیښنو څرګندویه دی او دا د افغانانو د توان او اراده د محدودوي چې د خپلو مدنې او سیاسي حقونو څخه برخمن شي.

• سره له دې چې امنیتي وضعه خرابه شوې ده د هغو نوماندانو شمیره چې پریکړه یې کړې ده ټاکنو لپاره ودریږي او دغه شمیره د تیرو ټولټاکنو په پرتله زیاته شوې ده. دغه زیاتوالی د جمهوري ریاست او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو د واړو لپاره دی. دغه زیاتوالی په تیره بیا د ښځو لپاره د ملاحظې وړ دی (نږدې ۲۰ سلنه) چې غواړي د ولایتي شوراګانو د نوماندانو په توګه ودریږي. سره ددې چې د دوو ولایتونو (کندهار او اوروزګان) لپاره د ولایتي شوراګانو د نوماندانو ښځینه ونډه د تخصیص له مخې پوره نه شوه.

• کلتوری او ساختاری محدودیتونه لکه سرچینو ته محدود لاسرسی، د پیژند د سندونو نشتوالی، د کورنی د غړو له خوا د مرستو نشتوالی، او په عموم ډول په عامه ژوند کې د ښځو حقونو ته غاړه ایښودل د ښځو هغه صلاحیت او استعداد محدود کړي و چې له خپلو سیاسی حقونو څخه ګټه پورته کړي.

• د چارواکو راپورنه چې له مخې یی مخالف نوماندي او د دوي کومکې کسان تهدیدوي او دارنګه دغه تورونه چې دولتی سرچینی د کمپاین د هدفونو لپاره په کار اچوي، د ټاکنو په پروسه کې د حکومت مداخلې ته پام اړولی دی.

• د ارزونې او چیلنج کولو پروسه د اعلان شوی طرز العمل سره سمه وه. د سیستمونو کمزوري او همدارنګه هغه محدود وخت چې د شکایت کولو  په پړاو کې د نوماندانو د خپلې دفاع لپاره ورکړای شوی و ددې انګیرنو لامل شو چې ځینې نوماندان چې د راپورونو له مخې له وسله والو ډلو سره تړاو لري، د نوماندۍ د وروستنی فهرست څخه لیرې نه کړای شول. له سیاسي ډګر څخه هڅې وشوې څو چې د ډي آر په کمیسیون او د ټاکنو په اړه د شکایتونو پر کمیسیون باندې زور واچوي چې خپلې پریکړې بدلې کړي.

**د یوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د سیاسی حقونو ګډه څارنیزه پروژه**

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه هیت (یوناما) او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په ګډه سره د ۲۰۰۹ کال د ولسمشری او ولایتی شوراګانو د ټاکنو په جریان کې د افغانستان د اتباعو له خوا د سیاسی حقونو څخه د استفادي جریان تر څارنې لاندې نیسی. د دې ګډو هڅو هدف دا دی چې د عمده برخه والو او مسولو چارواکو له خوا د دغو حقونو مراعات کول او د هغو ساتنه، په ټولټاکنو کې وارزوي. په تیره بیا باید د ټول ټاکنو په پروسه کې د ښځو ګډون ته زیاته پاملرنه وشي.

د ګډې څارنې د یوې برخې په څېر یوناما او د افغانستان د بشري  حقونو د خپلواک کمیسیون د سیاسی حقونو د نقض او د هغو په اړه د محدودیتونو او موانعو په باب شکایتونه او معلومات راغونډوی او شکایتونه پلټي او په نتیجه کې چارواکو ته سپارښتنی کوي. او په دې ډول د یوه داسی چاپیریال په رامنځته کولو کې خپله ونډه واخلې چې د آزادو او با انصافه ټاکنو لپاره مساعد وي.

څارنه به په څلورو مهمو بشری حقونو زور واچوي لکه د بیان آزادي، ګرځیدوراګرځیدو آزادی، د سوله ییزو غونډو آزادی او د انجمنونو آزادی، او دری مهم او بنیادي اوصول لکه نه ډارونه، عدم تبعیض او بې طرفي.

دغه راپور هغه معلومات تحلیلوي چې د ګډې څارنې په نتیجه کې لاس ته راغی او هغه تمایلات توضیح کوي چې مشاهده شوي دي، د هغو نقضونو د شکلونو او حوادثو په ګډون چې د ۲۰۰۹ کال د اپریل د ۲۹ او د جون د ۱۲ ترمنځ موده کې د ګواښنی، نوموني او سموني په موده کې د  افغانانو د سیاسی حقونو تحقق یې محدود کړی دی.

**میتودولوژي**

تر راپور لاندی موده کې د یوناما د ۲۱ او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ۱۲ ساحوي دفترونو مشاهده کوونکو په ټاکنو پوري مربوط د بشري حقونو عمومی چاپیریال تر څارنې لاندې ونیو څو هغه شرایط و ارزوي چې افغانان وکولای شی له خپلو

سیاسی حقونو څخه ګټه پورته کړي. د څارنې په فعالیتونو کې دا لاندي فعالیتونه شامل وو:

• د افغانانو له خوا د را رسیدلو شکایتونو راجسترکول او د هغو تعقیبول چې د دوي د سیاسی حقونو د نقض یا د هغو د محدودولو په باب رسیدلي وي.

• د خبری رسنیو څارنه، په تیره بیا د بیان د آزادي په باب د محدودیتونو په اړه .

• له رسمي چارواکو، سیاسی ګوندونو، نوماندانو، د ټولنې او قبیلو د مشرانو، مذهبي مشرانو، مدنې ټولنې، ژورنالستانو او د ټاکنو له چارواکو سره د مرکو له لاري د ټاکنو د پروسې د تمایلاتو او عمومی درک په اړه د معلوماتو راغونډول.

• له مربوطو برخه والو سره د ټاکنو د چاپېریال په باب سلامشورې کول، او په هغو عواملو باندي زور اچول چې سیاسی حقونه د ښځو د بشپړې برخی اخیستنې په ګډون نقض کوي او یا د هغو په وړاندې خنډ جوړوي.

## عمومي کتنه:

په عمومي توګه د نومنې چیلنج کولو پړاو د اپریل د ۲۵ څخه د جون تر ۱۲ نېټې پورې د ټاکنو د قانون او مقرراتو سره په دغه زمانې چوکاټ کې دوام وکړ. دا د ټاکنو د خپلوا کمیسیون لپاره د پام لاس ته راوړنه ده، په تیره بیا له دې مله چې دغه لومړنۍ ټاکنې دي چې مشرتوب یې په هیواد کې له دیرشو کلو وروسته په خپله افغانان ترسره کوي.

د نوماندۍ او د چیلنج کولو د پروسې له بشپړیدو وروسته د لوسمشر لپاره ۴۱ نوماندان او د ولسمشر د مرستیالانو لپاره ۸۲ نوماندانو او د ولایتي شوراګانو لپاره ۱۳۱۹۵ نوماندانو نومونه د نوماندۍ په وروستنی فهرست کې د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا نشر شول.

د سترو پیښو د نشتوالی سره سره د ارزونې په پړاو کې د هیواد په ډیرو برخو کې نا امني، په تیره بیا په جنوب، ختیځ او لویدیځ کې په ګوته شوې ده. ډیرو کسانو د څارنې

ټیمونو ته وویل چې کمزوری امنیتي حالت د دې اساسي لامل دی چې هغوي د ټاکنو په بهیر کې فعاله ونډه نه اخلي. بریدونو او ګواښـنې په تېره بیا د ښځینه نوماندانو، د مدني تعلیماتو د روزونکو، د ټاکنو د کارمندانو په خلاف د نامنی اغیره د ټاکنو په چاپېریال باندې جوته کړه.

په عمومی ډول دولت ضد عناصرو د ټولټاکنو د پروسی لپاره تر ټولو لوي تهدید رامنځ ته کړی دی. تر راپور لاندي موده کې طالبانو لږ تر لږه دوه سرمقالې خپري کړي دي او په ټاکنو کې یې برخه اخیستونکې په داسی اعمالو تهدید کړي دي چې "د هغو کسانو له حاله سره برابروي چې د بهرنیانو له خوا د افغانستان قبضه کولو ته قانوني بڼه ورکوي." د جون د میاشتی په لومړیو ورځو کې د طالبانو مشر ملا برادر له افغانانو څخه وغوښتل چې په ټاکنو کې برخه وانخلی.

د جمهوري ریاست یو نوماند او د ولایتي شوراګانو ۹۰ نوماندان چې ۱۳ ښځینه نوماندانې په کې شاملې وي په خپله خوښه له نوماندی څخه تیر شول. یو څو تېریدنې د بریدونو او ګواښونو له امله وې چې د نوماندانو او د هغوي د ملاتړو پر خلاف شوې وې. همدارنګه ځینې پیښې د دولت ضد عناصرو له خوا وشوې. د جمهوري ریاست نوماند چې له نوماندۍ تېر شو وویل چې په ټاکنو کې شفافیت نشته او دولت د ټاکنو په پروسه کې مداخله کوي، او  ځکه له نوماندۍ څخه تېر شوی دی. په عین وخت کې باید وویل شي چې د نوموړی نوماند د نوماندۍ د مشروعیت په اړه د هغه د تېریدنې پرمهال یو چیلنج د تعلیق په حالت کې موجود و.

د امنیتي وضعې د خرابیدو سره سره د پام وړ شمیر افغانان د ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره دریدلې دي. د ښځینه نوماندانو زایتوالی د ډیرې پاملرنې وړ دی. د جمهوري ریاست په ښځینه نوماندانو کې دوه برابره یعنې له یوې څخه تر دوو پورې زیاتوالی راغلی او د جمهوري ریاست د مرستیالانو په ښځینه نوماندانو کې له دوو څخه تر ۷ پورې زیاتوالی راغلی. د ولایتي شوراګانو لپاره د ۸۱ نورو ښځینه نوماندانو زیاتولای د پخوانیو ټاکنو په پرتله دی، چې دا د اټکل له مخې ۲۰ سلنه زیاتوالی څرګندوي. که څه هم دوه ولایتونه، کندهار او اوروزګان دواړه په دې کې پاتې راغلل څو ولایتي شوراګانو د ښځینه نوماندۍ لپاره ټاکلې شمیره پوره کړي.

ډیرې موسسې د ملي او نړیوالو غیر دولتي موسسو، ملګرو ملتونو او د دولتي ارګانونو په ګډون په بیلا بیلو عامه تبلیغاتي فعالیتونو کې شامل وو، څو ښځې د نوماندۍ لپاره وهڅوي. د ښځو د چارو وزارت یوه کاري ډله جوړه کړه چې د ښځو د ممکنه نوماندانو فهرست جوړ کړي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون همدارنګه د عامه پوهاوي پروګرام په لاره اچولی څو ښځې دې ته وهڅوي چې ځانونه نوماند کړي. د تخار او کندز په ولایتونو کې والیانو د تلویزیون مرکزونو او دغه راز ولایتي او مذهبي مشرانو ت دنده ورکړه چې نیغ په نیغه د ښځینه نوماندانو د نوماندۍ لپاره بلنې خپرې کړي.

## د چیلنج کولو او ارزونې پروسه

د چیلنج کولو پروسه د می د ۱۶ څخه د جون تر ۱۲ پورې دوام وکړ. په دې موده کې اتباعو ددې امکان درلود چې د ټاکنو د قانون د معیارونو سره سم د نوماندانو مشروعیت چیلنج کړي. چیلنجونه د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون[1] ته ورسیدل. په دغه پړاو کې ۳۰۲ چیلنجونه وشول. (۵۰ چیلنجونه د جمهوري ریاست او د جمهوري ریاست د مرستیالانو د نوماندانو په اړه او ۲۵۲ د ولایتي شوراګانو د نوماندانو په اړه وو). د هر چیلنج له ارزونې وروسته د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون ته د چیلنج شویو نوماندانو د مشروعیت په اړه معلومات ورکړل.

د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په رسمي توګه د ۲۰۰۹ کال د اپریل په ۲۶ نېټه جوړ شو او په عملي توګه د هغه د تاسیساتو به جوړونه کې ځنډ په تیره بیا د هغه په ولایتي دفترونو کې موجود و. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په هر ولایتي دفتر کې د مراجعې د مرکز د درلودلو سره د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون وکړای شو چې خپلې چارې تنظیم کړي. د مراجعې مرکز د چیلنجونو د راټولولو او په کابل کې د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته د هغو نیغ په نیغه د استولو مسوولیت درلود. د ټول ټاکنو د شکایتونو

[1] د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون پنځه غړي لري: دری تنه يې نړیوال دي چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازي له خوا ټاکل شوی دي. یو تن د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او یو تن يې د افغانستان د سترې محکمې له خوا ټاکل شوی دی.

کمیسیون همدارنګه د دې امکان درلود چې نېغ په نېغه د کابل په دفتر کې شکایتونه او چیلنجونه ومني.

د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د راپورونو له مخې د چیلنج په پروسه کې ددې ترتیباتو سره کومه مهمه ستونزه رامنځ ته نه شوه ځکه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د چیلنجونو له ولایتونو څخه د چیلنجونو د انتقال مسوولیت په کابل کې د د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون مرکزي دفترونو ته درلود، چیرې چې په رسمي توګه ارزونه، تفتیش، او قضاوت ترسره شول.

چیلنج شویو کاندیدانو ته د یادښت د وخت څخه وروسته لیږ تر لیږه ۵ ورځې مهلت ورکړای شو چې د ټول ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون له خوا پر چیلنج د قضاوت څخه مخکې غبرګون وښایې. د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د چیلنج شویو نوماندانو لپاره مهلت د مې د ۲۱ څخه د مې تر ۲۳ نېټې پورې اورد کړ څو دا باور یکړي چې کاندیدانو ته د غبرګون ښودلو پوره امکان برابر شوی دی. په زیاتو حالاتو کې د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ددې مهلت څخه وړاندې ولاړ او هغه معلومات یې په پام کې ونیول چې د جون د ۷ نېټې څخه وروسته رسیدلی وو. په دیرو حالاتو کې موجودو وځنډید. په عمده توګه ځکه چې د تماس په اړه معلومات سم نه و ټولو نوماندانو ته ددې سربیره د عامو معلوماتو د کمپاین له لارې د ارزونې د بهیر په اړه معلومات ورکړل شول.

ټول ټال ۵۶[2] کاندیدان د نوماندانو د نهایې لست نوم لړ څخه ایستل شوی چې دوه یې د ولسمشریزو ټاکنو، یو مرستیال ولسمشر[3] او ۵۳ د ولایتي شوراګانو نوماندان چې د ۲۶ ولایتونو څخه نمایندګي کوي، ایستل شوي. له دغې جملې څخه ۵۴ نوماندان د ناقانونه پوځي ډولو سره د تړاو په تور له نوم لړ څخه لرې شوی دي (د ټول ټاکنو د قانون ۱۵ (۳) ماده) او یو بل کاندید د جنایې محکومیت او د نا قانونه ډلو سره د تړاو په تور (د افغانستان

---

[2] اصلا د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د ۵۷ کاندیدانو د ایستنې اعلان وکړ. د ۲۰۰۹ کال د جون د میاشتې په ۱۵، د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د ولایتي شورا د یوه تن کاندید په هکله چې میرزایې غلطی له امله رد شوی وه بیا وروسته د کاندید په حیث وټاکل شو.

[3] د شکایتونو د مودې په وروستنې پای کې، د ولسمشریزو ټاکنو ۶ مرستیالان له خپل کاندید کیدو څخه تیر شول. په هغه صورت کې چې د ولسمشر یو مرستیال استعفا کوي، د ولسمشری لپاره کاندید کولای شي درې پوست لپاره بل کاندید ونوموي. ددې په پایله کې هیڅ ځای ناستې د شکایتونو پروسې سره نه مخامخ کیږي. که څه هم چې د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون یادونه کړې چې هغوي به د ډاډ د حاصلولو لپاره د کاندیدانو د نوماندي د مشروعیت معیارونه و ارزوي.

د اساسي قانون د ۶۲ مادې سرغړونه) د نوم لړ څخه ایستل شوی دی. بل کاندید د دوه ګونې تابعیت په درلودلو سره او د اساسي قانون د ۶۲ مادې په سرغړونه له لستې څخه وایستل شو.

د چیلنج کولو د پړاو تر مخه د می په میاشت کې د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون یوه پالیسې خپره کړه چې له مخې به یې د نوماندانو له ناقانونه وسله والو ډلو سره د تړاو په اړه چیلنجونه تثبیتوي. په دغه پالیسي کې د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون اعلان کړی دی چې هغه به "عمدتا د بې وسلې کولو او بیا رغونې د کمیسیون په پریکړه تکیه کوي چې آیا شخص به د ټاکنو د قانون د ۱۵ (۳) مادې پر بنسټ له ټاکنو څخه ایستل کیږي." [4] د دې پالیسی د اعلان موخه دا وه چې ددې ځانګړې پروسې شفافیت زیات کړای شي څو چې ټول شریکان (نوماندان، رایه ورکوونکي، رسنی، څارونکي او نور) د وړاندې څخه په دې پوه شي چې د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون څخه ډول هغه چیلنجونه چې د ټاکنو د قانون (۱۵ (۳)) له مخې راجستر شوي دی تر غور لاندې نیسي.

د بې وسلې کولو او بیا رغونې کمیسیون د پنځو ملي او نړیوالو مهمو موسسو څخه جوړ دی: د کورنی چارو وزارت، د دفاع وزارت، د ملي امنیت ریاست، یوناما او نړیوال امنیتي ځواک ایساف. د بې وسلې کولو او بیا رغونې کمیسیون فهرست چې د ۲۰۰۹ د پروسې لپاره کارول شوی د بیا څیړنې په ترڅ کې جوړ شوی او د ولسمشر مرستیال د فرمان په ذریعه نافذ شوی دی. بیا څیړنه د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر په میاشت کې پیل شوه او په پام کې وه چې د ۲۰۰۸ کال په ډسمبر کې پای ته ورسیږي. خو پروسه د ۲۰۰۹ کال تر اپریل پورې د ۳۴ ولایتونو څخه د معلوماتو د راټولولو په موخه اورده شوه. د بیا څیړنې نتیجه تر یوې اندازې پورې د ولایتي ادارو او همدارنګه د کمیسیون د نورو غړو په همکاري پورې اړه لري.

د هغه طرز العمل له مخې چې د د بې وسلې کولو او بیا رغونې د کمیسیون او د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون ترمنځ پرې موافقه شوې وه، د بې وسلې کولو او بیا رغونې کمیسیون د ټولو هغو نوماندانو په اړه چیلنجونه واستول چې د بیا څیړنې په پړاو کې یې د نا قانونه وسله والو ډلو سره تړاو تثبیت شوی و. کله چې نوماندان تر چیلنج لاندې راغلل،

---

[4] د کاندیدانو د شکایتونو په اړه د ټول ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون پالیسي د هغو نوماندانو په اړه څوک چې عسکري صلاحیت لري د غیر رسمي پوځي ځواکونو یا وسله والو ډلو غړي وي. ۲۰۰۹ کال د می د میاشتي ۱۵ نېټه.

د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون ددې مسولیت درلود ترڅو چیلنج شوی نوماندان خبر کړي او غبرګون لباره لیږ تر لیږه ۵ ورځې مهلت ورکړي. د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د کورنیو چارو په وزارت تکیه درلوده څو له نوماندانو سره تماس ونیسي ځکه چې د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ولایتي دفترونه په دې وخت کې نه درلودل او امنیتي اندیښنې کمې کړي.

کله چې د چیلنج شویو نوماندانو سره تماس ونیول شو هغوي ته لارښوونه وشوه چې د ډاپاګ د ولایتي کمیټو سره په تماس کې شي چې د بې وسلې کولو د قوانینو په رعایت پوه شي. د هغوي د غبرګون په اړه د DFR کمیسیون یو رسمي مکتوب د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته د جون په ۸ نېټه واستولو چې هغه نوماندان چې د ناقانونه وسله والو ډلو سره تړلې نه وو په نښه کړي.

هیڅ کاندید د جون تر ۹ پورې په پوره ډول شرایط نه و پوره کړي نو بیا د ټاکنو څخه د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون له خوا وایستل شول. په ځینو ولایتونو کې (جوزجان او بلخ) په لارښوونو کې د ډاپاګ د پروسې په اړه د ولایتي چارواکو په لارښوونو کې ځنډ و. په نتیجه کې ځینې کاندیدانو د نورو ولایتونو په پرتله د چیلنج په وړاندې د اپیل لپاره لیږ وخت درلود. ځینې ایسته کړای شویو نوماندانو او د مدنې ټولنې استازو دا تایید کړه چې د ډاپاګ په لستونو کې پخپله تیروتنې وې.

دغه انګیرنې د ځینو نوماندانو په باب په بې انصافۍ سره عملي شولې او نور کاندیدان چې د وسله والو ډول سره یې اړیکې درلودې هغوي و نه ایستل شول. په ځینو قضیو کې زیات سیاسي فشار د ټول ټاکنو د شکایتونو پر کمیسیون راغي چې خپلې پریکړې بدلې کړي. ددې زور په مقابل کې مقاومت وشو.

په عمومي ډول د کاندیدانو د چیلنج پروسه د افغانانو له خوا په درست ډول نه وه درک شوې او دې پروسې ته یې داسې کتل چې یو میکانیزم دی ترڅو د پخوانیو غلطیو په باب په انفرادي او ټولیز ډول عدالت عملي شي. په داسې حال کې چې قانوني چوکاټ تاییدوي چې د با صلاحیته محکمې له خوا محکومیت ددې لپاره دی چې اشخاص د دفتري صلاحیتونو څخه محروم شي (د اساسي قانون ۶۲ او ۸۵ مادې)، د عدالت د پلې

کولو لپاره د ساختار نیمګړتیاوې د دې لامل شوې چې ډیر نوماندان چې د عوامو په نظر کې د جدي جرمونو مسوول وو د تفتیش او عدلي تعقیب څخه خلاص شي.

**حقونه او اصول**

دغه برخه د افغان وګړو د سیاسی حقونو څخه مستند شوي تیري وړاندې کوي، دې کې د هغو قضیو لنډیزونه شامل دي چې د کاندیدانو د نوماندۍ او چیلنج کولو په پړاو کې د ۲۰۰۹ کال د اپریل د ۲۵ څخه د جون تر ۱۲ پورې شوی دي. په ټولیز ډول د څارنې ګډو ټیمونو نږدی ۱۰۰ شکایتونه د رپوټ ورکولو په موده کې تر لاسه کړی دي. په لاندنیو برخو کې راجع شوي قضیی د هغو شکایتونو نمونې دي چې ګډ ټیم وکړای شو هغه وپلټي او تثبیت یی کړي.

د امنیتي ملحوظاتو له امله او دا چې سرچینې او شکایت کوونکي محافظت شي، ځینې قضیې چې لاندي طرح شوي دي، د پیژندنې مشخصات نه لري.

**د نه تهدید او ارعاب اصل**

د نه تهدید او ارعاب د اصل سرغړونه د رپوټ ورکولو د مودی پر مهال د سیاسی حقونو د کارولو په وړاندي اساسی خنډ وو. د دغه ډول سرغړونو ارتکاب په ستره پیمانه د دولتی ضد عناصرو له خوا ه چا چې په عامه توګه هغه کسان تر ګواښ لاندي نیولي چې د ټول ټاکنو په پروسه کې بې د ګډون تمه درلودله. همدارنګه ګواښونه هم د یو شمیر لاملونو په پایله کې د سیاسی فرهنګ په شمول چیري چې د رسمی صلاحیت حدود اکثراً تر پښو لاندي کیری او همدارنګه د قانون د حاکمیت د نه پلی کولو، او د قانون د پلی کوونکو د مناسبو روزل شو چارواکو د نه شتون له امله، په خاص ډول د شخړو څخه په متاثره شویو سیمو کې واقع شوي دي.

که څه هم دا موضوع د یوې سیمې څخه تر بلې سیمې پورې توپیر کوي او دا چې نوماندان د هغوي ملاتړي او رایه ورکوونکې په عمومی صورت کیدلای شې د هیواد په کچه تر ګواښونو لاندې وي او دا هم د رپوټ ورکولو په مهال کې دي . نږدې ۶۰ شکایتونه چې په کې د ګواښنې او ارعاب پیښې شاملې وي د څارنې د ګډو ټیمونو له خوا تر لاسه شوي دي چې ۲۵ یی تعقیب شوي دي .

د ۲۰۰۹ کال د مۍ د میاشتی په ۲ نیټه یو ناپیژندل شوي وسله وال شخص مولوي ګل پاچا چې د کاپیسا د ولایت د تګاب د ولسوالۍ یو ډیر ښه پیژندل شوی عالم ؤ، ووژلو. د هغه د وژنې علت معلوم دی او هغه دا ؤ چې نوموړی اراده درلودله چې د ولایتی شورا د څوکۍ لپاره ځان کاندید کړي، چې په دې اړوند هغه د خپلې وژنې دوه ورځې تر مخه په عامه توګه اعلان کړی ؤ.

د ۲۰۰۹ کال د مې په ۱۵ نیټه د کندز په ولایت کې یو وسله وال دولت ضد شخص د ولایتی شورا یو تن نوماند و تښتولو. هغه د څو ساعتونو لپاره تر تحقیق لاندي راغلی او په دې تورن کړی شوی چې په انتخاباتې پروسه کې ګډون کوي چې د نوموړي نیوونکې دا یو غیر اسلامی عمل ګڼي.

په همدغه ورځ د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی څخه د ولایتی شورا نوماند د دولت ضد عناصرو له خوا وتښتول او تر دوو ورځو پوري د هغوي له خوا یرغمل وساتل شو. د هغو موجوده معلوماتو له مخې، هغه د یرغمل کیدو پر مهال وهل شوي او تښتوونکو دغه نوماند ته د هیواد د پریښودو حکم کړی دی. کاندید د خوشې کیدو وروسته هیواد پریښود. د دی کار سره د زرمت په ولسوالۍ کې بل نوماند هم د نوماندۍ څخه خپل نوم وویست.

د ۲۰۰۹ کال د مې په ۲۶ نیټه غلام یحیی مولوي اطهر چې د غزنې د ولایت د ولایتی شورا لپاره یو لوړ پوړی نوماند و د دولتی ضد عناصرو له خوا، یا هم د وردګو په ولایت کې او یا هم په قلات کې هغه وخت اختطاف شو چې د کابل څخه غزنې ته په لاره کې و. د جون په لومړی نیټه د خواجه عمری مشرانو د تښتوونکو سره ولیدل او د دغه نوماند د آزادۍ غوښتنه یی وکړه او د هغه د آزادۍ په بدل کې ورسره د محلې دود او دستور سره سم د یوې میری د ورکولو وعده وکړه. د جون په ۳ نیټه د افغان ملی پولیسو د وردګو ولایت د سید آباد په ولسوالۍ کې د دغه نوماند مړی وموند. که څه هم دا ستونزمنه ده چې د دی تشخیص وشی چې د دی پیښې تر شا څه عوامل دي خو عمومی نظر دا دی چې دغه اختطاف او بیا د تښتول شوی کاندید وژنه د هغه د نوماندی سره تړوا لري.

د ۲۰۰۹ کال د مې په ۲۸ نیټه شیر محمد د خوست د ولایت د ولایتی شورا نوماند د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو په ذریعه هغه وخت چې د خوست – ګردیز په سړک یې سفر کول، ووژل شو. په دغه برید کې د کاندید یو زوي هم ټپی شو. د رپوټ له مخې دغه

چاودیدونکې توکې د کاندید په موټر کې ځاي پر ځاي شوي وه  او په دې توګه د دې برید ترشا لامل دا و چې نوموړی ټولټاکنو ته ولاړ و.

د ۲۰۰۹ کال د جون په ۲ نېټه د کندز د ولایت څخه رپوټ ورکړای شو چې د ولایتی شورا د ټاکنو دوو نوماندانو پریکړه وکړه چې د خپلې نوماندۍ څخه تیر شی ځکه چې هغوی د دولتی ضد عناصرو له خوا د مرګ تهدیدونه تر لاسه کړي وو.  د دغه ډول قضیو راپورونه د خوست، پکتیا، کاپیسا او د بغلان د ولایتونو څخه هم تر لاسه شوي دي.

ډارونې او تهدیدونه یواځې په نوماندانو پورې محدودی نه وې. د مدنې پوهی روزونکې، د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون کارمندان او په یوه پیښه کې ټول کلې ته تهدید او ګواښونه شوي دي. د تخار او کاپیسا د ولایتونو څخه راپور ورکړ شوی دی چې د مدنې زده کړو روزونکې او د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون ولایتی کارکوونکې د نامعلومو کسانو له خوا تر ګواښنی او ډار لاندي راغلی او دوي ته اخطار ورکړای شوي دي چې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون سره کار پریږدي.

د خوست د ولایت د  ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د ولایتی مشر د رپوټ له مخې هغه ته تهدیدونه رسیدلې دی چې په هغو کې شب نامی هم د دولتي ضد عناصرو له خوا د تیر کال په بیلا بیلو وختونو کې استول شوي دي. هغه ته ویل شوي چې خپله دنده خوشی کړي او هغه معلومات هم افشاء کړي چې د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د ننګونو په اړه تر لاسه کړي دي، د دي پرته هغه به د برید لاندې راځې. هغه زیاته کړه چې د دغو ګواښونو او د هغه پر ملکیت د برید په پایله کې دی دې ته اړ شوي چې د خپل کلې څخه د ولایت مرکز منتقل شی.

## **<u>د بې طرفۍ اصل</u>**[٥]

د رپوټ ورکولو د دوری پر مهال  د نظارت ګډ ټیمونه د ټولټاکنو په پروسه کې د دولت د مداخلې د پیښو په  اړه رپوټونه تر لاسه کړي چې په کې د دولتې چارواکو له خوا د اپوزیسیون د نوماندانو او د هغوي د ملاتړ کوونکو ډارول او تهدیدول، د کمپاین د پروسی لپاره د دولتې زیرمو کارول شامل دي. د نظارت د ګډو ټیمونو له خوا څه ناخه د ۳۰ په حدودو کې شکایتونه تر لاسه شوی چې ۲۲ یې تعقیب شول.  د می د نیماېې څخه د

---

[٥] د بې طرفۍ اصل په دې زمینه کې داسې تعریف شوی دی چې دولتي کارکوونکی خپلې دندې  په پوره بیطرفې سره تر سره کوي، چې په کې د مشخصو کاندیدانو د کمپاین د پر مخ بولو لپاره د دولتي زیرمو نه کارول شامل دي. د دې لپاره د  افغانستان د اساسی قانون ۵۰ ماده او د ۲۰۰۹ کال د ولسمشر د میٔ د میاشتی فرمان د ټولټاکنو په چارو کې د دولتې کارکوونکو د نه مداخلې په اړه وګوریٔ.

لغمان د ولایت د ملی امنیت پخوانی دفتر د حامد کرزی د کمپاین د دفتر په توګه کارول شوی دی. د ملی امنیت د ریاست یو مرستیال دوکتور عبدالله لغمانی چې پخپله د لغمان د ولایت څخه دی په شفاهی توګه یې د افغانستان دخلکو د مسلم ګوند مشر عبدالله مختار هغه مهال چې د ولایت څخه یې لیدنه تر سره کول، تهدید کړ. په یوه بله جلا پیښه کې د لغمان د ولایت د قرغیو د ولسوالی د امنیت ریس په دی تورن دې چې پر ښاغلی مختار یې فزیکی برید کړی دی.

د ۲۰۰۹ کال د می د میاشتی په ۲۰ نیټه د نورستان د ولایت د شورا ریس رپوټ ورکړ چې د ولایت والی زده کوونکي او ښوونکی راپارولي دي چې یوه داسی لاریون راوباسی چې په هغې کې دا غوښتنه شوې چې نوموړي دې ځان نه کاندیدوي. رییس ویلی دي چې والی د ده خلاف دی او د دي لامل هغه مطبوعاتی کنفرانس دی چې نوموړی په کابل کې درلود او د هغه په ترڅ کې یې والی تر نیوکې لاندي راوست څو نوموړي په دغه ولایت کې د مخ پر خرابیدونکې امنیتی وضعې په وړاندي لازم تدابیر ونیسی.

د می په میاشت کې د بدخشان د ولایت د ولسې جرګې لپاره وکیل زلمی خان مجددی د دولتې هیلیکوپټر په ذریعه امدادی مالونه وویشل چې په بدل کې یې د حامد کرزی لپاره ملاتړ تر لاسه کړي.

**د نه تبعیض اصل**

د نظارت ټیمونو ته څرګنده شوه چې څینی داسې قضیی شته چې د بې توپیرې او نه تبعیض د اصل څخه تخلف دی چې دا د ښځو په سیاسی حقونو پوري تړاو لري. ( د ښځو د سیاسی حقونو په اړه لاندنۍ برخه وګورئ)

**د بیان آزادی**

د رپوټ ورکولو په موده کې اوه شکایتونه د نظارت د ګډو ټیمونو له خوا د بیان د آزادۍ څخه د سرغړونی په برخه کې تر لاسه شول.

د ۲۰۰۹ کال د مۍ د میاشتی په ۷ نیټه د یوي اوونیزې مسؤل مدیر رپوټ ورکړ چې هغه تهدید شوی او د یوي مقالی په اړوند د ناپیژندل شوو برید کوونکو له خوا په دي وجه چې پر څینی سیاسی ګوندونو یې انتقاد کړی دی، وهل شوی دی. د قربانی کس د وینا له مخې بریدکوونکی د جمعیت اسلامی غړي دي چې د ډاکټر عبدالله، عبدالله د نوماندۍ

څخه ملاتړ کوي. دغه قضيه چارواکو ته رسول شوي ده، که څه هم داسی معلوميری چې هيڅ ډول اقدام تر اوسه پوری نه دی تر سره شوی. د هغو معلوماتو له مخې چې تر لاسه شوي دي، دغه ژورنالست ته لا تر اوسه هم اخطارونه تر لاسه کوي.

د افغانستان د راډيو تلويزيون د آينه شهر د پروګرام ډايرکتر د رپوټ له مخې د دی څخه منع شوی دی چې د ۲۰۰۹ کال د می په ۱۷ نيټه يو پروګرام نشر کړي. دغه پروګرام چې په کې د ټولټاکنو د شکايتونو د کميسيون برخه وال، پارلمان او مدنی ټولنه ده د ټولټاکنو اړوندي مسلی يې تر بحث لاندی نيولی دي چې د وراندي څخه د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت له خوا تاييد شوی وو. که څه هم وزير د رپوټ له مخې ژورنالست ته اطلاع ورکړي وه چې دغه ډول پروګرامونه چې نوموړی يې غواړي نشر کړي، کيدای شی د ولسمشر حامد کرزي کمپاين ته تاوان ورسوي او په نتيجه کې د دغه پروګرام اجازه بيرته واخيستل شوه. د دې په تعقيب ژورنالست د ټول ټاکنو د شکايتونو کميسيون کې خپل شکايت ثبت کړ.

## د خوځښت، سوله ييزو غونډو او د انجمن جوړولو  آزادی

د رپوټ ورکولو په موده کې د دغو دريو حقونو په اړه يواځی شپږ شکايتونه تر لاسه شوي دي. د دی سره سره دا هم بايد ياده شی چې د دغو حقونو څخه برخمنتيا لا زيات د کمپاين د پړاو سره تعلق لري.

## د ښځو سياسي حقونه

د افغانې ښځو د سياسی حقونو د فعاليت په اړه ټول ټال ۱۵ شکايتونه تر لاسه شويدي. د دغو حقونو کارول د يو شمير فکتورونو له خوا تر ا غيزی لاندی راغلی دي او همدارنګه او د فرهنګي او ساختاري محدوديتونو په وسيله تر تاثير لاندی راغلی دي. چې د هغو له جملې څخه زيرمو ته محدوده لاسرسی، د تذکرې نه لرل، د کورنيو غړو له طرفه نه ملاتړ، او په عامه ژوند کې د ښځو د حقونو د منلو عمومی نښتوالی يادولای شو. د تهديدونو، زورونې، او ګوابڼونو شمېر چې يوناما او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون يې تر لاسه کړي چې ان د کانديدانو د خپلو کورنيو څخه دا راپورونه ورکړل شوي دا څرګندوي هغه ښځې چې غواړي په سياسي ژوندانه کې د ټاکنو د پروسې له لاري ځانته د سياسي ژوندانه يو ځای ولټوي د هيواد په اکثرو برخو کې په بشپړه توګه لا تر

اوسه پورې د منلو وړ نه دي. لاندېنی پیښې د هغو تهدیدونو تبعیضونو چې ښځې د نوموني په دوره کې ورسره مخامخ وې، په ښه توګه انځوروﻻی شي:

د ۲۰۰۹ کال د می د میاشتې په ۵ نېټه راپور تر لاسه شو چې د تخار ولایت د یانګي قلعې په ولسوالۍ کې د شبنامو د خپرولو له لارې د ولایتي شورا د انتخاباتو لپاره له احتمالي ښځینه نوماندانو څخه غوښتنه شوی وه چې له نوماندۍ څخه لاس په سر شي. د دغو ګواښونو سره سره نهه ښځې د محلي دفتر لپاره نوماندې دي.

د ۲۰۰۹ کال د می د میاشتې په ۱۱ کې راپور تر لاسه شو چې د تخار ولایت د رستاق په ولسوالۍ کې د ولایتي شورا یوه مشهوره ښځینه نومانده چې د ښځو د حقونو له فعالینو څخه هم وه، د ټیلفون له لارې یوه ګواښنه تر لاسه کړه چې له هغې څخه غوښتل شوې وه چې له نوماندی څخه په شا شي. کله چې ملی پولیس په قضیه کې مداخله وکړه نو ټلیفونی ګواښونه پای ته ورسیده.

د نظارت ټیمونه یوه رپورټ په دایکندي کې د ولایتي شورا له یوې نوماندې څخه راپور تر لاسه کړه چې د هغه وخته راهیسې چې د هغې له ولسوالی څخه یو پخواني ناقانونه وسله وال قوماندان ولایتي شورا ته ځان کاندید کړی و، هغې د هغوی له پلویانو څخه تل تهدیدونه تر لاسه کوي.

د ۲۰۰۹ کال د می د میاشتې په ۲۸ نیټه د بغلان په ولایت کې د ولایتي شورا له یوې نوماندې څخه راپور تر لاسه شو چې هغې ته د حکومت د مخالفینو لخوا د مرګ ګواښنه شوې وه چې له امله یې نوموړې ونه توانېدله چې بیرته خپله ولسوالی ته لاړه شي او کمپاین وکړي. او ان هغه مجبوره شوه چې کابل ته نقل مکان وکړي د هغې قضیه او پولیسو او ملي امنیت ریاست ته ګزارش شوی چې هغوي نوموړې نوماندې ته مشوره ورکړی دي چې پس له دې چادري واغوندي.

د ۲۰۰۹ کال د جون د میاشتې په ۸ نېټه د تخار د ولایت څخه د یوې ښځینه نوماندې څخه راپور تر لاسه شو چې هغه په دوامداره توګه د خپل اوښې له خوا له ګواښنې سره مخامه وه چې باید له خپلې نوماندۍ څخه په شا شي، خو هغې دا کار و نه کړ. نوموړې نومانده وایی چې دا ځکه ده چې د هغې د کورنیو غړو هم دهغې له اوښی سره همغږې دي او د هغې اوښي هم خپل ځان ولایتي شورا ته نوماند کړی دی او دا یې هم اضافه کړه چې د هغې اوښی له یوې محلي جنایتکارې ډلې سره اړیکه ساتي.

**پایلې او وړاندیزونه**

که څه هم د کاندیدانو د نوماندۍ او د اعتراضونو مودې محدودیتونه درلودل، لکه څرنګه چې د حقونو او اصولو په برخه کې یادونه وشوه، خو په عمومي توګه د هغې تطبیق د افغانستان د انتخاباتو د قانون او مقرراتو سره سم و. د ولسمشرۍ او د ولایتي شورا ګانو د نوماندانو شمیره د تیرو ټولټاکنو په پرتله د دې څرګندویه ده چې افغان رایه ورکوونکي به د رایه اچولو په روځ کې ګڼ انتخاب لري.

په عین وخت کې د نوموړیو لاملونو په سر کې امنیتي وضعه ده چې د کاندیدانو د کمپاین کولو وړتیاوو او د رایه ورکوونکو پر آګاهانه انتخاب باندې به په عمومي توګه ستره اغیزه پریږدي.

د کاندیدانو او د هغوی د پلویانو، انتخاباتي چارواکو، او په همدې ډول د رایه ورکوونکو پر ضد په نښه شوې بریدونه او ګواښونه به د افغان وګړو نیت په هغو وړتیا باندې چې د ټاکنو د پروسې په راتلونکې برخې کې د خپلو سیاسي حقونه وکاروي، کیدای شی اغیزه وکړي. د طالبانو له خوا بیانونه هغه کسان تر ګواښ لاندي راولی چې د ټولټاکنو په پروسه کې ګډون کوي او دا د ټولټاکنو د پخوانی دوری په پرتله خلکو ته ګواښ شوی و چې د رایه ورکولو څخه ډډه وکړي

د دي سربیره د نوماندانو، د ټولټکانو کارکوونکو، مدنی ښوونکو او د ټولنو د مشرانو په وړاندي د بریدونو او ګواښونو کچه د ټولټاکنو د پروسی په اړوند ریښتنی ګواښ مطرح کوي، د جنوب شرق او جنوب سیمی د زیاتی اندیښنی وړ سیمی دي.

یو بله پدیده چې باید د ټاکنې پروسې په پاته برخه کې له نږدې یې څارنه وشي، د دولت مداخله او د دولت له سرچینو څخه ناوړه استفاده ده. د دولت مداخله د رای ورکوونکو یو ځانګړی کاندید ته د رایه ورکولو اړ ایستلو څخه نیولی د نورو کاندیدانو د پلویانو تر ځورولو او ګواښولو او همدارنګه له دولتي منابعو د خپل کمپاین په ګټه استفاده کول، دا ټول د راتلونکي انتخابات د اعتماد وړتیا او هغه حق ته چې باید د هر چا رایه وشیمرل شی ستره ګواښونه ده.

یو شمیر داسی پیښی رپوټ ورکړای شوي دي چې د بیان د آزادی پر حقونو باندي اغیزه کړی دی. دغې ګزارش شوې سرغړونې په ځینو سیمو کې د ډله ییزو رسنیو پر هغه توان

چې معلومات راټول کړي او معلومات او تخصصي تحلیلونه خلکو ته وړاندې کړي، منفي اغیزې کړي. د کمپاین د مودی پر مهال د ډله ییزو رسنیو نقش به د ننګونو او ارزونې د پروسو په پرتله د زیات اهمیت لرونکې دي. حکومتی ډله ییزه رسینې په خاص ډول د ټولو کاندیدانو لپاره د لاسرسی په برابرولو کې او همدارنګه رایه ورکونکو ته د معلوماتو په برخه کې چې په څه ډول خپلی رایه وکاروي، مهم نقش لوبوی.

راتلونکې ټکې د ۲۰۰۹ کال د انتخاباتو د پاتې برخې لپاره او د کمپاین کولو د دورې لپاره په ځانګړی ډول، سپارښتنې دي:

- ملي او نړیوال امنیتي ځواکونه اړتیا لري چې د دغو امنیتي ګواښونو په ځواب کې ګډ تدبیرونه ونیسي. په داسې حال کې چې د ۲۰۰۹ کال د جون په میاشتې کې د افغان امنیتي ځواکونو او آیساف صادر شوی لارښود هڅوونکي بریښي، خو لا ډیرو کارونو ته اړتیا شته چې د افغان امنیتي ځواکونو، ملي اردو، ملي پولیسو د هغو ګواښونو لپاره چې زمونږ په مخ کې پراته دي پوره تیاري ولري. په ځانګړې توګه د عملیاتو د همغږی د مرکز (OCC) په اړه چې د انتخاباتو د شکایتونو د کمیسیون، ملي پولیسو، ملي امنیت ریاست، او د ایسافو څخه جوړ دي، باید یوشان ته پاملرنه وشي.
- حکومتي چارواکې باید د ولسمشر د نه مداخلې په اړه فرمان چې د په ۲۰۰۹ کال کې صادر شو، په پراخه پیمانه خلکو ته ورسوي او ټول هغه تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي چې هغه چارواکې چې د ټاکنو په چارو کې مداخله، هغوی ته سزا ورکړای شي. دا ډیره مهمه ده هغه دولتی چارواکي چې دغه دندې ترسره کوي نه یوازې بې طرفانه عمل وکړي، بلکه د عوامو له خوا داسې وانګیرل شي چې دوي بې طرفه دي.
- حکومتي چارواکی همدارنګه باید داسې تدبیرونه ونیسي چې ښځې وهڅوي چې په انتخاباتو کې پوره ونډه واخلي. دا به لاندې چارې راونغاړي:

الف) یو پراخ عمومي تعلیمي پروګرام چې د ټولنې، سپین ږیرې، دیني عالمان، او ښځې په نښه کوي او په انتخاباتو کې د ښځو د پوره برخې اخیستنې په اړه د خلکو د معلوماتو کچه لوړه کړي.

ب) د ځانګړو تدبیرونو نیول چې په هغه کې د ښځینه نوماندانو او رایه ورکوونکو ځانګړی امنیتي اړتیاوې په نظر کې نیول شوې وي او ضروري اصلاحي اقدامات کول.

ج) د ځانګړو لارښوونو خپرول، او همدارنګه د ښځینه کاندیدانو د ځانګړو امنیتي اړتیاوو په اړه پولیسو ته د خاصې روزنې برابرول.

- رسنیو، د ټولنو مشرانو، او د مدني ټولنې استازیو او د انتخاباتو د څارنې موسسې، کاندیدان، سیاسي ګوندونه او د رایه ورکونې د کارمندانو څخه باید د مدني ښوونې په موخه ګډون وکړي. دا به مرسته وکړي چې د انتخاباتو د پروسې په هکله معلومات په ښه توګه خپاره شي چې په هغو کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون (د شکایتونو د اخیستلو د طرز العمل په شمول) د رول په هکله او همدارنګه د رایې ورکونې د حق د نړیوالتوب په اړه او تر ټولو مهم د رایو ورکولو او د رایې اچوونې د بهیر محرمیت په اړه معلومات شامل دي.